ما او رسول الله صلى الله عليه وسلم به په داسې حال کې له يوه لوښي څخه لامبل چې دواړه به جنب وو، او کله به چې حېض وم، نو امر به يې راته وکړ چې ځان بسته کړه نو زما سره به نږدې کېده (لوبې به يې کولې) او زه به حايضه وم،

له ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي: ما او رسول الله صلى الله عليه وسلم به په داسې حال کې له يوه لوښي څخه لامبل چې دواړه به جنب وو، او کله به چې حېض وم، نو امر به يې راته وکړ چې ځان بسته کړه نو زما سره به نږدې کېده (لوبې به يې کولې) او زه به حايضه وم، او کله به چې اعتکاف و نو له - جومات - څخه به يې د وينځلو لپاره سر راوويست، پداسې حال کې چې زه به حايضه وم. [صحيح دی] [متفق عليه دی]

عايشې رضي الله عنها د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د خپلو ځينو خاصو حالاتو په اړه خبر ورکړی، چې له هغې حالتونو څخه يې ځيني دا دي چې: هغې به د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د جنابت په حالت کې له يو لوښي څخه غسل کاوه، او دواړو به تري اوبه راخېستې. او دا چې کله به رسول الله صلى الله عليه وسلم د حيض په حالت کې غوښتل ورسره يو ځای شي نو امر به يې ورته وکړ تر څو خپل بدن د نوم له غوټ نه لاندې تر ځنګونو پورې بسته کړي، نو بيا به يې له جماع پرته مباشرت ورسره کاوه. او دا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به په جومات کې اعتکاف کاوه، نو خپل سر به يې عايشې رضي الله عنها ته له جومات څخه د وينځلو لپاره راوويست په داسې حال کې چې هغه به په خپل کور کې د حېض په حالت کې وه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3476

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee